
AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڅر
۲۰۲۶/۰۵/۱۴

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(پنځلسمه برخه)



(ښي او چپ لور ته، خلیل‌الله خلیلي، د جنرال ضیاء ستایونکی (مداح)

یادونه:
په دغه لیکنه کې د تېرې یوې لیکنې څو پراګرافونه چې د جهادي تنظیمونو په اړه وو، د تسلسل د ساتلو په موخه رانقل شوي دي.

## پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانی(۱۲)

## جنرال ضیاء د جهادي تنظیمونو اتل او ضیاء ته د خلیل‌الله خلیلي مداحیه شعر

په نړۍ او پاکستان کې ډېرې وګړي د جنرال ضیاء پر مرګ، د هغه د تېریو او ظلمونو له کبله خواشیني نه وو، خواشیني خو پر ځای پرېږده، بلکې شکرونو یې ایستل چې د ځمکې له مخ څخه یوه فتنه ورکه شوه.
د هغه په جنازه کې د نړۍ شاوخوا ۳۰ هېوادونو ولسمشرانو، لوړپوړو چارواکو او ځانګړو استازو ګډون کړی ؤ خو د افغانستان د هغه مهال، د ډاکټر نجیب الله د حکومت لهخوا هېڅ کوم رسمي څوک نه وو ورغلي.
سلګونو زره پاکستانیانو د جنرال ضیاء د جنازې په مراسمو کې ګډون کړی ؤ.[1] په داسي حال کې چې هغه مهال د پاکستان ټول نفوس شاوخوا ۱۰۶ میلیونو تنه اټکل شوی ؤ.
بې‌نظیر بوټو بیا د ضیاء په جنازه کې د خلکو شمېر لږ لیکلی، سره له دې چې د پاکستان لنډمهالي حکومت په جنازه کې د ګډونوالو لپاره ډېرې اسانتیاوې هم رامنځ ته کړي وې، بې‌نظیره وایی چې «د لنډمهالي حکومت له لومړنیو کړنو یوه دا وه چې د هېواد له خلکو سره یې اړیکه ونیوله او د ضیاء د جنازې مراسمو ته یې وړیا ټکټونه او چوکۍ چمتو کړې، حیرانوونکی خو لا دا وه چې لږ شمېر بهرنیو دولتي مشرانو او لږ شمېر پاکستانیانو په دغو مراسمو کې ګډون وکړ.»[2]

[1]: تلک خرس: ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین. فارسي ژباړه: نثار احمد صمد. ۲۸مخ
[2]: بې‌نظیر بوټو: درختر شرق. ۴۹۴مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جنرال ضیاء د خپلو مخالفینو تر څنګ ځیني خواخوږي هم لرل چي تر ټولو ډېر خواخوږي او مینه‌وال یې د افغان جهادي تنظیمونو مشران وو نو د خپل اتل پر مرګ یې وژړل. افغان جهادي مشرانو ژوره خواشیني څرګنده کړه او هغه یې **شهید** وباله، پیښور مېشتو افغان تنظیمونو د ضیاء په وژنه ویر وکړ ځکه هغه د جهادي ډلو تر ټولو مهم پوځي او مالي ملاتړی ؤ.[3]




د امریکا د بهرنیو چارو وزیر **(جورج سولتس)** ضیاء هم **شهید** وباله او ګلبدین حکمتیار ته یې ډاډ ورکړ چي له دې وروسته به بیا هم امریکا د افغانستان د آزادۍ لپاره هر ډول مرسته وکړي.[4]

جنرال ضیاء په ډېر بد مرګ ووژل شو، له امریکایي کفارو سره یو ځای په سرو لمبو کي وسوځول شو او په خاورو ایرو بدل شو.

بې‌نظیر بوټو لیکي چي **«په پاکستان کي ډېرو وګړو د ضیاء مرګ یو الهي عذاب باله چي هغه ورسره مه شو، د خدای له قهر سره په داسي ډول مخ کېدل خورا وېروونکي وو.**

**الوتکه پنځه ساعته د اور په لمبو کي سوځېدلې وه. خلکو ویل چي ضیاء د اسلام له نومه دومره زیاته [ناوړه] ګټه اخیستې وه چي کله ومړ نو خدای [ج] ونه غوښتل چي د هغه د مړي کومه نښه نښانه هم پاتي شي.**

**د ضیاء مړی د مسلمانانو له وروستیو مراسمو، لکه د مړي غسل، د جنازې لمونځ او په مړیستون کي د مکي پر لور د مخ اړولو څخه محروم پاتي شو.**

**د ضیاء په تابوت کي چي د هغه د مړي هیڅ پاتي شوني په کي نه وو، د شاه فیصل جومات ته څېرمه ښخ کړای شو... «.**[5]

لکه څرنګه چي بې‌نظیر بوټو یادونه کړې، شوني ده چي د جنرال ضیاء مړی په بشپړه توګه له منځه تللی وي، کله چي الوتکه سقوط وکړي او د ضیاء د الوتکي په څېر، په پوزه له ځمکي سره ولګېږي نو له ۵۰۰ تر ۷۰۰ کلیو مترو په سرعت، پر ځمکه لګېږي چي په منځنۍ کچه، په یوه دقیقه کي ۱۰ کیلومتر واټن وهي او په یوه ثانیه کي ۱۶۶.۶ متره سرعت لري.

بله دا چي کله د یو انسان پر مړي تر پنځو ساعتونو پوري اور بل وي (هغه هم د الوتکي د تېلو اور) نو د هغه حالت به څه وي؟

د هندوانو مړي چي کله سوځول کېږي، د جنرال ضیاء د جسامت په کچه، د یو هندو مړی شاوخوا په ۳-۲ ساعتونو کي په ایرو بدلیږي، په داسي حال کي چي د هندوانو مړي د لرګیو په اور کي سوځول کېږي چي د لرګیو اور د الوتکي د تېلو د اور په پرتله ډېر کمزوری وي.

د بې‌نظیرې د وینا او له پورته دلایلو پر بنسټ ویلی شو چي د جنرال ضیاء او نورو ډېرو کسانو مړي به نه وي پېژندل شوي، لکه څرنګه چي بې‌نظیرې هم ویلي، خدای خبر دی چي په اسلام آباد کي د جنرال ضیاء په نوم مړیستون کي به د چا پاتي شوي هډوکي ښخ کړای شوي وي؟

**د جنرال ضیاء وژل چي امریکایانو هم شهید بللی او افغان تنظیمونو هم، نه پوهېږو چي دا د مسلمانانو شهید دی که د کفارو؟** په هر حال، د هغه حساب له لوی ښښتن رب‌العالمین سره دی، جنرال ضیاء که جنتي وي که جهنمي، په پاکستان،

---

[3]: لاندې لینک کي د ضیاء پر مرګ د افغان مهاجرو غبرګون او خواخوږي وګورئ:
https://www.facebook.com/watch/?v=1168469915413782
[4]: تلک خرس، ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین. فارسي ژباړه: ډاکټر نثار احمد صمد. ۲۸مخ
[5]: بې‌نظیر بوټو: دختر شرق. فارسي ژباړه: علي‌رضا عیاري. ۴۹۴مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

هند او افغانستان کي د ده له شره ډېر خلک خلاص شول خو نومړی د هغو مظلومو او بېوسه انسانانو له حق (حق‌العبد) څخه نه شي ژغورل کیدای چې د ده لهخوا وژل شوي او تباه شوي دي.

د جنرال ضیاء مړی (؟) یې په اسلام آباد کې ښخ کړ **چې په لومړیو کې د هغه پر مزیستون باندې ځلور تنه افغان مجاهدین ولاړ وو او پهره یې کوله.**[6]

په پاکستان کې ډېری افغان مهاجرین په دې نه پوهیدل چې جنرال ضیاء د کفر او اسلام په نوم په سلګونو زره افغانان ووژل او په ناپوهۍ کې دوی د خپل هیواد د دښمن ستاینه کوله، **داسي دښمن چې د افغانستان ورانول او د کابل سوځول يې یوازینی ارمان ؤ** (لکه په تیرو پاڼو کې چې ویل شوي) جنرال ضیاء په ډاګه ویل چې د افغانستان جګړه د پاکستان د دفاع جګړه ده. **(جنګ افغانستان، دفاع پاکستان)**[7]

ځیني داسي مهاجر افغانان هم وو چې له جنرال ضیاء یې ډېر لوی شخصیت جوړ کړی ؤ، نورو بیا پر خپلو زامنو د (ضیاءالحق) نومونه ایښی دي.

او ځینو تاریخي خاینانو، جنرال ضیاء په ډېره لویه کچه ستایلی چې له دغو پدري خاینانو څخه یو هم **خلیل الله خلیلي** دی چې **د تاریخي خایین، میرزا محمدحسین‌خان مستوفی‌الممالک**[8] زوی دی، خلیلي د حبیب الله (سقاؤ) د غلو په واکمنۍ کې د سقاؤ سر منشي ؤ او د ظاهر شاه د پاچاهي پر مهال د پاچا مشاور او په سعودي عربستان او عراق کې افغانستان د سفیر په توګه پاتي شوی دی، خلیلي د خپلو چپلوسیو په اوج کې په یو مداحیه شعر کې جنرال ضیاء، له حضرت علي، خالد بن ولید او سلطان محمود غزنوي سره پرتله کړی، تر دې چې ضیاء یې د سلطان محمود غزنوي ځای‌ناستی بللی او د حضرت علي ځای‌ناستی تر جوړوي، دا دی د خلیلي شعر:

**شو ضیاالحق چراغ آرزوی مسلمین**
**علمدار مسلمان شو مهین سرباز دین**
**جانشین شیر یزدان شو، دِر خیبر گشا**
**در مـقام خــالدی، میدان محشر آفرین**
**مسند محمود غازی، شهسوار بت شکن**
**آنکه میلرزید از وی هند تا دریای چین**

---

[6]: د صفیه حلیم لیکنه: د سازش ازادي 17 August, 2020
https://www.safiahaleem.com/?p=6211

[7]: د لیکنو دویمه برخه ولولئ.

[8]: محمد حسن خان (مستوفي الممالک) د امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان کوتوال (ضبط احوال = د استخباراتو) مشر ؤ چې د خپلو سختو شکنجو ورکولو له امله په (میرغضب) هم مشهور ؤ. هغه د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال له مشروطه غوښتونکو چې امان الله خان د هغوی پلوی ؤ، دښمني یالـله، کله چې امان‌الله خان د خپل پلار امیر حبیب‌الله له ترور وروسته واک تر لاسه کړ، مستوفي‌الممالک په وېره کې ؤ چې د شاهزاده امان‌الله او مشروطه‌غوښتونکو سره د خپلو پخوانیو ناوړه کړنو له امله به مجازات شي.
نصرالله خان چې د امان‌الله خان تره ؤ، د حبیب‌الله له ترور وروسته یې په جلال‌آباد کې د پاچاهۍ دعوه وکړه، هغه وو چې مستوفي‌الممالک، نصرالله خان د امان‌الله خان پر خلاف جګړې او مخالفت ته وهڅاوه ترڅو واک د امان الله خان له لاسه وباسي خو نصرالله او مستوفي الممالک ونیول شول چې په پای کې مستوفي‌الممالک د خلیل‌الله خلیلي پلار په اعدام محکوم شو. خلیل له امیر امان الله خان سره د خپل پلار د اعدام له امله دښمني لرله او د امان الله خان مخالفین، په ځانګړې توګه له سقاؤ او بیا له نادري کورنۍ سره تر پایه پاتي شو. لنډه دا چې خلیلي د هر چا ډول ته نخیدلی دی.
د ډېرو مالوماتو لپاره ولولئ: د کاندید اکاډمیسین اعظم سیستاني لیکنه: (چرا مستوفی الممالک، پدر استاد خلیلي از سوی مشروطه خواهان اعدام شد؟ ؛ پورتال افغان-جرمن)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

**پایمال لشکر این بی‌خدایان تا بکی**
**ای تو محمود بزرگ بت شکن را جانشین**
**حالت امروز ما آئینه فردای تست**
**ای ضمیر روشنت با پرتو ایمان قرین**
(خلیل الله خلیلی)

پښتو ژباړه:
ضیاءالحقه، د مسلمانانو د هیلو څراغ شه
د دین لوی سرتېری او د مسلمانانو بېرغوال شه
د علي ځای‌ناستی شه، د خیبر دروازه ماته کړه
د خالد غوندي د محشر میدان جوړ کړه
د محمود غازي پر ګدی، پر بت‌شکن اس سپور
هغه چې له هند او چین سمندر پورې ترې لړځېدل
تر څو به د دغو بې‌دینانو لښکر موږ ځپي؟
اې ته چې د لوی بت‌شکن محمود ځایناستی یې!
زموږ د نن ورځې حالت ستا د سبا هنداره ده
اې هغه چې روڼ ضمیر دي، د ایمان له وړانګو سره مل دی.
(خلیل‌الله خلیلي)

خلیلي د همدغه شعر له برکته، جنرال ضیاء له امریکا څخه راوغوښت او د خپل فرهنګي مشاور په توګه یې وټاکه. خلیلي چې د افغانستان د یو څرګند دښمن ستاینه کړې وه، د هغه د شعر پر وړاندې ډېرو افغان لیکوالانو او شاعرانو غبرګونونه څرګند کړل، د خلیلي له منتقدینو څخه یو هم ښاغلي **سید زبیر واعظي** او بل ښاغلي **عبدالله اوا** دی چې د خلیلي د شعر په ځواب کې یې خورا خوندور شعرونه لیکلي چې په څو ځله لوستلو ارزي:

**جواب به مداح ضیاء الحق**
**ای خلیلی سر ز خاك تیره بردار و ببین**
**تا شوی از مدح بیجایت سراپا شرمگین**
**آن ضیاء الحق چراغ آرزوی شعر تو**
**شد علمدار جنایت زیر نام پاك دین**
**جانشین آن هلاكو گشت و چنگیز و شداد**
**در مقام بربری، میدان محشر آفرین**
**دیدی ای شیرین سخن یکسر خطا گفتی بما**
**مسند محمود غازی در كجا و زان لعین ؟!**
**ذوالفقار و ضیاء و پرویزش بما اهریمنست**
**این سخن در ریشهء تاریخ باشد جاگزین**
**پایمال لشكر سرخ بوده ایم، اما كنون**
**پایمال لشكر ظلمت شدیم با جهل و كین**
**حالت امروز ما آیینه ی چند بیت توست**
**ای سپه سالار شعر و ای مداح بهترین**
(سید زبیر واعظی)
***


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

**در پاسخ به مداح ضیاء الحق؟**

**کاش بودی تا بپرسم از دلِ این سرزمین**
**ای خلیلی چند بودی با چه روئی برزمین؟**
**ای نمک نشناس ازچه این چنین گشتی ذلیل**
**بر تجاوز پیشه ای مداح گشتی پست ترین**
**جانشین شیر یزدان خوانده ای جلاد را**
**برتو لعنت بر تو نفرین بر تو دائم همچنین**
**از مقام خالدی گفتی منافق پیشه وار**
**ناکسانه رفتی از خود تا کجا ای بی یقین**
**رو سیه گشتی در این دار نزد غازی و غلام**
**برتر است بت از تو ای بی اعتقاد کج نشین**
**حالت امروز ما از فتنه ی همتای توست**
**لاف گفتی هم دروغ ای بد روای بد ترین**
**تا قیامت نسل اندر نسل بی تردید و شک**
**لعنت این ملت آزاده است بر تو یقین**
**سوء کردی استفاده از قلم بهر تفنگ**
**تا ابد در آتش دوزخ بسوزی ای لعین**[9]

(عبدالله اوا)

د دغه مداحي او غورېمال شاعر شعر کره کتنه:

د خلیلي دا شعر ادبي، سیاسي او حماسي اړخونه لري، شعر روان او د لرغوني فارسی سبک لرونکی دی، پرخه مبالغه په کې شوي ده، ډېر تشبیهات په کې دي، لکه د خدای زمری (شېر یزدان) بتشکن، د دین څراغ، د خیبر فاتح، د حشر میدان جوړوونکی او نور.
په دې شعر کې جنرال ضیاء په ډېره لویه حماسي کچه ستایل شوی دی: د اسلام څراغ، د نړۍ د مسلمانانو، بیرغلرونکی، لوی سرتېری، د خیبر فاتح او د حضرت علي ځایناستی.
**(د خیبر دروازه ماته کړه یا یې پرانیزه)** په دې ځای کې د شاعر یو پټ راز هم پروت دی، خلیلي ظاهراً د سعودي عربستان د مدینې منورې اروند (خیبر) یادوي خو د خلیلي پلار او د ده مخینې (سابقې) ته په کتو، نوموړی غواړي **جنرال ضیاء د لوی افغانستان، خیبر درې ته متوجه کړي تر څو د خیبر درې له لارې افغانستان لاندې کړي.**
خلیلي جنرال ضیاء، د پیغمبر (ع) له صحابي او پیاوړي قوماندان خالد بن ولید سره پرتله کړی دی، خلیلي جنرال ضیاء د سلطان محمود غزنو (بتشکن) ځایناستی ګڼي چې په دې کې هم **د خلیلي هغه رمز نغښتی چې هغه غواړي جنرال ضیاء له هند سره جګړې ته وهڅوي.**

د خلیلي منتقدین په دې اند دي چې خلیلي په دې شعر کې د افغانستان د ستر دښمن ستاینه کړې، هغه څوک چې هیله یې لرله کابل په اور کې وسوځوي.
له دې کبله ده چې خلیلي د خپل دغه شعر له امله د هغه افغاني شخصیت تر پوښتنې لاندې راځي.

د خلیلي پلویان وایي چې دا شعر د شورویانو پر خلاف د جهادي احساساتو تر اغېز لاندې، د وخت د اړتیا له امله لیکل شوی دی، هغه مهال ډېرو مهاجرو افغانانو او عربي هېوادونو، جنرال ضیاء د افغان جهاد ملاتړی باله خو وروسته د پاکستان د ویجاړوونکو پالیسیو او د افغانستان د ورانی له امله د دغه ډول ستاینو پر وړاندې سختې نیوکې او غبرګونونه رامنځ شول. دا وه هغه کره کتنه چې د خلیلي د مداحیه شعر په هکله وړاندې شوه.

[9]: قهرمان استاد خلیلي کی بود؟ ضیاءالحق یا حبیب الله کلکانی؟ کاندید اکادمیسین سیستانی لیکنه. 2021 / 12 / 17 پورتال افغان جرمن


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

بده خو لا دا چي د خلیل‌الله خلیلي مړی يې په ۱۳۹۱ل. ل کال کې له پاکستان څخه کابل ته راوړل شو او د کابل په پوهنتون کې، **د ارواښاد، علامه سید جمال‌الدین افغان** د زیارت تر څنګ يې ښخ کړ، دا داسې وخت ؤ چې په کابل کې واک او ځواک د امریکايي ګوډاګیانو او سقاوي غلو په لاس کې ؤ.

پاتې دې نه وي چې جنرال ضیاء اوس مړ دی خو د هغه ویجاړوونکي مفکوره اوس هم لا ژوندۍ ده، د هغه مفکوره وه چې د ضیاء له مرګ وروسته کابل د ده د ګوډاګیانو لهخوا وسوځول شو، په زرګونو بې‌ګناه کابلیان ووژل شول او په لکونو افغانان له هېواده کډوالۍ ته اړ شول.

د ضیاء مفکورې نه يوازې افغانستان وران کړ، بلکې پاکستان يې هم د تباهۍ پر لور روان کړی دی، لنډه دا چې جنرال ضیاء د خپلو ظالمانه او احمقانه کړنو له امله، په تاریخ کې د يو ناوړه او ظالم کس په نوم ثبت شوی دی.

او دا هم د لوی افغانستان ستر ملي او انقلابي شاعر، مرحوم سلیمان لایق وړاندوینه چې په لاندې شعر کې يې د پاکستان په تړاؤ کړې ده:

**دا خوني پاڅون دی شوني، نه ده چې ملنډه سي**
**شرق اوغرب به لوڅ سي، د فتنولوبه به شنډه سي**
**مور د پاکستان او د ایران به په کې تنده سي**
**دا به د تاریخ د لعنتونو یوه پنډه سي**
**زموږه د وطن د ارمانونو لار به لنډه سي**
**دې منزل ته مخکې لاړاته سمندرونه دي**
**لا د لمر پرلار، د تروږمیو یرغلونه دي**[10]

نېټه:۱۴۰۵/۲/۲۴ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلي محمد انور اڅړ نوري لیکني په دې لینک کې ولولې.

[10]: په تیاره کې غوړېدلی ګل، د غلامانو سرود له شعري ټولګې څخه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ